# پښتونخوا

خواجه محمد سائل

پښتونخوا د دوو ټکو نه روغه شوې کلمه او مرکب دے. يعني پښتون او خوا. وړومبنے ټکے د يو نسل او قام نمائندګي کوي او دوېم لفظ د اړخ، علاقې او وطن په معنٰي عام استعمالېږي. ممکنه ده چې د کلمې اولنے تورے پښتون د ((پوخ)) او ((تن)) يعني تکړه بدن واله نه وتے وي او يا د پوخ تون نه جوړ شوے وي چې د تکړه خلقو د استوګنې په معنٰي راځي. ځکه چې ((تون)) په پښتو کښې ډېر ځايه د ځائے ځائيګي په معنٰي استعمال شوے دے. لکه د مېږو ځائے ته مېږتون. د بدقسمتۍ نه د فارسۍ ژبې د اثر په وجه ځنې پښتانۀ کاتبان او ليکوال د پښتونخوا تورے پښتونخواه ليکي او بې ضرورته (الف) پسې (ه) زياتوي. حالانکه يو خو دغه شان د ټکي معنٰي بدلېږي او بل د پښتو سم دم لفظ فارسي کېږي. ځکه چې په فارسۍ کښې (خواه) د غوښتنې، طلب، خواهش او آرزو په معنٰي دے. لکه نېک خواه، خېر خواه وغېره. نو دغسې په کوم اړخ، علاقه، وطن او ملک چې پښتون اباد او استوګن دے، د هغه ځائے نوم پښتونخوا دے. پښتو ئې ژبه او دود دستور دے او په پښتو يو تر بله ژوند تېروي او لا تېرے پرې دا چې د دې ژبې او قوم د نوم په تنه بُوده کښې انسانيت او سړيتوب هم خوروور پروت دے چې د دنيا په مخ د بلې هيڅ يوې ژبې يا قوم د نوم په لمن کښې به دا ملغلرې بيانۀ موندې شي. پښتون د ښو اخلاقو او اوصافو مالک او د اسلام په لاره تلونکي ته وائي. څوک چې پښتو پرېږدي، هغه د پښتون د پښتونولۍ نه ووځي. هغه د انسانيت له لارې بې لارې شي او مسلماني خو يو ذره قدر له هم د هغۀ په رګونو او وينه کښې ټوپ نۀ وهي. د دنيا په قومونو کښې دا فخر صرف او صرف يو پښتون ته حاصل دے چې هغه خپل ځان اول پښتون او بيا مسلمان وشمېري. د نورو نسلونو خلق به د يو پېغمبر د راتګ نه وړاندې دومره بدتهذيبه او بداخلاقه وو چې بيا وروستو به هغوي ته د خپلې معاشرې د زوړ وخت په هغه حالاتو شرم او کرکه ورتله. ولې پښتون څخه چې کومه پښتو نن ده هغه زرګونه کاله مخکښې هم د دوي د ژوند اډانه او بنيادي تيره وه.

اوس راځئ چې د تاريخ پاڼې لږې شاته واړوو او وګورو چې آيا د پښتون د استوګنې دے ټاټوبي پخوا څۀ نوم لرلو او کۀ نه دا علاقه هم داسې بې نومه او بې نخښې بې پتې پرته وه. څومره پورې چې ښکاره ده. وېدي کتابونه د دې علاقې وړومبني معلوم کتابونه دي چې تقريباً څلور زره کاله مخکښې د پښتونخوا په سيمه کښې ليکلي شوي دي. په دغه کتابونو کښې وړومبنے وېدي کتاب ((رګ وېد چې خواوشا دوه زره کاله د عيسوي سن د شروع کېدو نه مخکښې ليکلے شوے معلومېږي. د آريائي قوم د لسو ملکانو او قبيلو د راوي درياب په غاړه د جنګ جګړې په لړ کښې د يوې قبيلې نوم

«پکت» يادوي. چې د زرتشت د «اوستا» په نزد دغه (پکتي) قبيله بخدي (بلخ) نه د هندوکش او سپين غر لمنو ته راکوزه شوې او هلته اباده شوې ده. داسې ښکاري چې دغه بخدي ټکے هم د پختي پښتو د ريښې څخه وي او پکت، پکتي خو ارومرو پښت او پښتو ده او دغسې په دغه مناسبت د پکت، پښت يا پښتون د اوسېدو ځائے پکتيا، پکتيکا يا پښتونخوا جوړېږي. ځکه چې بيا وروستو څۀ موده پس يوناني مؤرخ هيروډوټس چې ۵۰۰ قبل مسيح خواوشا د دې علاقې سېل او معلومات له راځي نو د دې علاقې اوسېدونکو پکتويس د اوسېدو ځائے نوم پکتيکا په ښوني مونږ ته صفا ظاهروي چې دغه پکتيکا هو بهو د نن پښتونخوا ده ځکه چې په يورپي ژبو کښې عموماً او په انګرېزۍ او يونانۍ ژبو کښې خصوصاً د (خ) ټکے نۀ استعمالېږي بلکې (خ) د (ک) په اواز پورته کوي (لکه د خان په ځائے کان) په نورو ټکو کښې پکتيکا به پښتيخا وئيلے شي او کۀ چرې د دغه ټکي (ي) د پښتنو د ځنو لهجو په شکل راوړو نو (ي) به (و) شي لکه چې د پښتونخوا ځنو علاقو کښې (لکه بنو) اوس هم مونږ ته ميږ وائي يا پوزه پېزه بولي او دغسې نور ډېر ټکي. نو په دغه شان پښتيخا به پښتوخا شي او (خا) خو به تاسو وروستو د پښتنو ليکوالو په ذکر کښې هم وګورئ چې د (خوا) په معنې ئې راوړي. نو په دغه ډول پکتيکا پښتوخا، پښتو خوا، پښتيخا او پښتونخوا کښې دومره فرق او بېلتون نشته. خو صرف د ژبې د لړي والي او د تلفظ د وېنا کولو د فرق له کبله پښتونخوا پکتيکا راوړلې شوې ده او دا دغسې ده لکه څنګه چې هم دغه مؤرخ د پښتونخوا د دغه وخت ځنې قبيلې ګندهارا، اپريدي، خټک او دادي په ځائے بالترتيب ګندهاريائي، اپريتائے، ستېګېډے او داديکي راوړي.

د يونان يو بل ليکونکے او جغرافيه دان چې د دې علاقې په دوره راغلے دے د دوېمې عيسوي پېړۍ بطليموس Claude Ptolemee دے چې د پکتين د استوګنې ځائے پکتي حا ښيي چې (ک) او (ي) ئې بالترتيب په (خ) او (و) او (ح) په (خ) اوړي او دغسې د بطليموس پکتين، پښتون او پکتي حا هم د نن پښتوخا، پښتيخا او پښتونخوا جوړېږي.

د يورپي ليکونکي ګريرسن خيال دے چې د وېدي سرودونو پکت او د يوناني ليکوالو پکتويس، پکتين، پکتيکا، پکتي حا، ټول ټکي پښتو، پښتون او پښتونخوا دي او هيڅ فرق پکښې نشته. هغه وائي چې افغان نوم په پښتنو ايرانيانو او فارسي بانانو ايښے دے. ځکه چې پښتانۀ ځان ته بې د پښتون نه بل څۀ نۀ وائي او حقيقت هم دا دے چې دا د رګ وېد ذکر شوے قوم پکت، پښت يا پښتون دے.

اوس بايد افغان کلمه هم لږه د خپل نظر لاندې وساتو. ځکه چې مغلو خصوصاً او انګرېزانو عموماً د پښتون په ځائے په خپلو ليکونو او دفتري کتابونو کښې د ذات او نسل په ښودنې دې نوم دپاره د افغان تورے راوړے دے او يو پښتون ئې هيڅ بې هيڅه افغان کړے دے. حالانکه د افغان کلمه د ارمني ژبې د اوغان څخه راوتې ده. چې په دغه ژبه کښې د غرونو اوسېدونکي ته وائي او د دې مثال داسې دے لکه څنګه چې د پښتونخوا سيمې له د غرئيزې علاقې له کبله د سوېلي پنجاب

د ملتان پنجابیانو (روه) یعني غرونه استعمال کړے دے او بیا وروستو پښتنو لیکوالو هم په خپلو لیکونو کښې دا علاقه په دغه نوم یاده کړې ده او عن چې پښتنو شاعرانو په خپل فارسي کلام کښې خپل تخلص هم روهي یا کوهي (یعني د غرونو اوسېدونکے) لیکلے دے او هم د روه په مناسبت روهیله ؤ یعني پښتنو په هندوستان کښې روهیلکنډ اباد کړے دے. د خوشحال خان خټک مشرے ځوے اشرف خان هجري (۱۰۴٤ تا ۱۱۰٦) په خپل کلام کښې خپل وطن پښتونخوا د روه په نامه داسې یادوي:

قاصدان له روهه نۀ راځي مدت شو
سلام باد رارسوي منت ئې تم دے

او د خوشحال خان خټک د کړوسي کاظم خان شېدا (۱۱۳۵ هجري تا ۱۱۹۱ هجري) د دې قسم ګڼو شعرونو نه دا دوه مثالونه هم لږ وګورئ:

په هندي ادا ئې وکړې په ما چارې
زۀ شېدا په زړۀ ساده د روه افغان یم

په زړۀ مې ګرځي د غرونو شوکې
حملې د بازو د زرکو کوکې

ووایه څۀ کا د روه نسیمه
ګیرا منګولې زېبا مېنوکې

او بیا دې ته هم لږ پام وکړئ چې د غرونو د اوسېدو له رویه د پښتنو علاقه ډېر کرته د کوهستان او کوهسار په نامه هم یاده شوې ده. دلته د پښتو ژبې د مشهور شاعر خوشحال خان خټک او د اردو ژبې د مشهور شاعر علامه اقبال صرف یو یو مثال راوړے شي. خوشحال خان خټک وائي:

کۀ رښتیا وایم شېرشاه دا هسې نۀ وۀ
لکه مونږ نۀ یو پېدا له کوهستانه

خزانې د هندوستان دې راخورې شوې
سرۀ مهران دې ننوځي په کوهسار

او علامه اقبال وائي:

فطرت کي مقاصد کي کرتا هے نگهباني
یا بندۀ صحرائي یا مرد کوهستاني

افغان باقي کوهسار باقي
الحکم لله الملک لله

او بیا په تېره تېره خو فارسي کلام کښې خوشحال خان خټک خپل تخلص هم روهي او کوهي راوړي.

چه شرابیست این که روهي را
بیکے جرعه بے خرد کردي

ترجمه: دا څنګه (ښۀ) شراب دي چې روهي ئې په یو ګوټ د عقل نه خلاص کړو.

کوهي اګر زمانه فرستد هزار غم
از غم چه غم چو رطل ګران را بیافرید

ترجمه: اے کوهي، کۀ د زمانې له اړخه زرګونه غمونه راشي نو د داسې غم نه څۀ ویره ده ځکه چې د غم لرې کولو له شراب ئې پېدا کړي دي.

تاسو ولیدل چې پښتون ته د غرونو د اوسېدو له وجې افغان یا د روه، کوهستان، کوهسار اوسېدونکي وئیلے شي. دا د دوي د خپل نسل او قوم نوم نۀ دے بلکه د غرئیزو علاقو د اوسېدو له کبله پرې دغه نوم ایښودے شوے دے. د افغان دغه زیاته مستعمله کلمه په وړومبي ځل د محمود

غزنوي (۳۸۷ هجري تا ۴۲۱ هجري) د وخت نه برخېره کېږي. د شاهنامې ليکونکي فردوسي د يوې واقعې په بيان کښې د «اوغان» کلمه په دې ډول راوړي:

نشسته در آن دشت بسيار کوچ
ز اوغان ولا چين و کرد و بلوچ
نژادش ز اوغان سپاهش هزار
همه نازک انداز و ژوبين گزار

ترجمه : په دغه دشت صحرا کښې ډېر زيات لښکر راغونډ وۀ چې افغانان، چينيان، کرد او بلوچيان پکښې شامل وو او د افغان نسل يو زر سپايان وو چې ټول غشي ويشتونکي او ګرز وهونکي وو.

او بيا د رستم د خُلې نه د اوغان ټکے داسې وکاړي:

ندارم درنگ امشب ايدر زکين
مگر سوي اوغان و خرگه زمين
همه مرز اوغان بهم برزنم
بدين دژ زکين آتش اند زنم

ترجمه : زۀ نن شپه جنګ کښې ډيل نۀ کوم او د افغانانو خېمو ته ورځم... زۀ به ټول افغاني سپايان برباد کړم او په دې ځنګل به د خپلې غصې اور ولګوم.

د ايرانيانو او فارسي وانانو له اړخه «پښتون» د افغان په نوم يادولو نه علاوه د هندوستان له طرفه د هندی لفظ پټان د ښځو تښتونکي په معنٰي د مغلو په دور حکومت کښې استعمال شروع شي او د هغې وجه دا وي چې د پښتون بادشاه شېر شاه سوري د دوېم مغلي بادشاه همايون نه بيرته په تخت اخستو د پښتون او مغل ترمنځه نفرت او کرکه پېدا شي او له دغه وخته چې همايون يو ځل بيا تخت واخلي. د مغلو د طرف نه د پښتنو د ذليل کولو او د دوي نسل کم ذاته ثابتولو قسم قسم منصوبې جوړې شي چې بيا وروستو د دې سازشونو او پروپېګنډو خلاف پير روښان او د هغۀ ملګري په مذهبي رنګ کښې زبردست تحريکونه د پښتونخوا په سيمه کښې وچلوي او دغسې په هندوستان کښې اباد شوي پښتانۀ خپل ځان د مغل نه د غوره نسل او اصلي مسلمان ثابتولو په وجه خپل اصل نسل سامي النسل ګڼل شروع کړي او له دغه وخته د پټان په حقله يوه نظريه په نيم افسانوي او نيم تاريخي ډول مېدان ته راوځي او په وړومبني ځل د مغلو د يو درباري مؤرخ نعمت الله هروي په مخزن افغاني نومې کتاب کښې ښکاره شي چې د جهانګير بادشاه د يو مشهور او اوچت پښتون منصبدار خان جهان لودي په وېنا ئې ليکلے دے. څوک چې بيا وروستو د مغلو له اړخه پښتون ته د تذليل او حقارت په نظر کتو د شاهجهان بادشاه خلاف بغاوت وکړي او د يو بل پښتون سردار دريا خان روهيله ملګرتيا او امداد څخه تر دوو کالو د مغلو خلاف خپلې جګړې ته دوام ورکړي. خو اخر ماتې وخوري او دا دواړه غېرتي پښتانۀ ووژلے شي. د نعمت الله هروي د مخزن افغاني په نزد چې هرکله بخت نصر بيت المقدس فتح کړو نو د هغۀ د حکم او مذهب نۀ منونکي د بني اسرائيلو لس قبيلې له دغه ځايه وشړلې شوې. چې څۀ عربستان او څۀ د غور غرونو ته لاړې او دغلته ميشته شوې.

[1] د عامو پښتنو د دې وېنا مطابق چې مونږ د غوري مرغۍ نه راغلي يُو د ځنو پوهانو په نزد د قندهار سوبل نمرخاتۀ طرف

د اسلام راتګ او د خالد د مسلمانیدو څخه چې د بني اسرائیلو راشړلي شوو قبیلوو د نسل نه وو. خپل د غور غرونو استوګن هم نسل او هم ذاتو ته د اسلام قبلولو پیغام راولېږلو او له دې ځایه د قېس په مشرۍ کښې مدینې ته یو وفد لاړو او د خپل رسم و رواج او اسلام ترمنځه ئې چې څهٔ ډېر فرق او بېلتون ونهٔ لیدو. نو مخې څخه ئې اسلام قبول کړو. د اسلام راوړو نه پس خالد خپله لُور قېس ته وادهٔ کړه او پېغمبر د وفد مشر قېس له د مسلمانۍ نوم عبدالرشید کېښودو او هغه او د هغهٔ اولاد ئې اسلام د پاره د کشتۍ هغه بطان لرګي وګڼلو. چې د بېړۍ د بېخ بنیاد پرې ایښودے شوے وي او ټوله پېړۍ پرې راټینګه او مضبوطه وي او په ماتېدو ئې بېړۍ ټوکړې ټوکړې لاړه شي او دغسې دغه بطان کلمه د قېس عبدالرشید نسل له پټهان وګرځېده او د عامو پښتنو په خُلهٔ هم دا خبره عام شوه چې مونږ د خالد بابا د ګسې پُښتۍ اولاد یُو. د ګسې پُښتۍ نه د دوي مراد د لُور له اړخه اولاد دے. ځکه چې پښتانهٔ ښے لاس د تکړه والي له کبله نر او ګس لاس د کمزورۍ له وجې ښځه ګڼي او په دغه راز پُښتۍ د ځوي او ګسه پُښتۍ د لُور له طرفه اولاد څخه تشبیه کېږي.

د ځنو پوهانو او لیکوالو ترمخه د قېس عبدالرشید او بطان دا ټوله واقعه محض یو قیصه او فرضي افسانه ده. د دوي خیال دے چې په حقیقت کښې پټهان ټکے د پښتان نه راوتے دے او د پښتون جمع پښتانهٔ د لفظ څخه جوړ شوے دے او دغه واقعې او قیصې څخه ئې هیڅ تعلق او علاقه نشته او یا داسې ښکاري چې پښتان نه جوړ شوے ټکے پټهان وروستو کښې معرب شکل (بطان) مونده وي. ځکه چې په عربۍ کښې (پ) او (ټ) دواړه ټکي نشته او د دغه دواړو ټکو بالترتیب د (ب) او (ط) شکل اختیار کړے وي او بیا بطان د دې فرضي قیصې بنیادي تیږه ګرځېدلے وي. او دا هم صفا جوتېږي چې پټهان چرې هم د بطان غلط او وران شکل کېدے نهٔ شي ځکه چې د مشرق په ټولو ژبو کښې د تقدس له رویه تر ډېره حده عربۍ ژبې خپل تلفظ برقرار ساتلے دے او په ډېر کم حالت کښې ئې خپل شکل بدل کړے دے. نو دا څنګه ممکنه ده چې د عربۍ او هندۍ مشترکه ټکي (ب) به د (پ) او د عربۍ (ط) به په (ټ) اوړېدلے وي.

د ګران مشر دوست محمد خان کامل دا نظریه ډېره درنه او په ځائې ده چې ګوندې پټهان ټکے د پښتني نسب نامې د دوېم مشر بیټهان څخه جوړ دے او چونکه د هندوستان د تخت درې حکمرانې کورنۍ غلجي، لودي او سوري بیټنې وو نو په دغه اساس دوي وړومبے بټهان او بیا د پټهان په نوم مشهور شول.

په پښتو ادب کښې دا کلمه مونږ د مغلو مخالف او د پیر روښان د تصوف د مکتب یو ټینګ مرستیال او نمسي مرزا خان انصاري په شاعرۍ کښې په وړومبنې ځل وینو چې د ژوند په اخري برخه کښې د هندوستان په علاقو ګرځېدلے او هلته په دکن کښې د یو جګړې په دوران کښې په کال ۱۰۴۰ هجري کښې وژلے شوے دے وائي:

ځو د جهل په خویونو کښې محکم ئې
د مرزا وېنا به څهٔ اوري پټهانه

خبر د افغان، پټهان وغېره تاریخي پس منظر هر څهٔ چې دے. وي به خو پښتون نهٔ خو افغان دے او

ته علاقه ده. چې مرغه یا غوړه مرغۍ ورته وائي. خو دا هم ممکنه ده چې دغه غوړه مرغۍ د غوره مورګه مبدل شکل وي او مراد ترې نه هم دغه د غور غرونه وي. ځکه چې پښتو کښې مورګه د غر او اوچت ځائې په معنې عام استعمالېږي.

نۀ پټهان دے بلکه هم هغه د رګ وېد او اویستا پکت، پکتي د یوناني لیکوالو پکتویس، پکتیس، پکتین او په نورو ټکو کښې پښتون دے او هم په دغه مناسبت او جوړ پکتیا، پکتیکا، پښتیخا، پښتوخا، پښتنخا او پښتونخوا ئې د استوګنې ځائے، ملک او وطن دے. اوس راځئ چې د پښتنو د دې مسکن او ټاټوبي پښتنخا یا پښتونخوا نامه د پښتو ادب په رڼا کښې ولټوو. چې دا خبره پوره دلیل او ثبوت ته ورسي چې د پښتون د اوسېدو دا علاقه د سوونو کلونو راهسې په دغه نوم مشهوره راروانه ده. د ټولو نه وړومبے د شهاب الدین غوري (۵۶۹ هجري تا ۶۰۳ هجري) د یو درباري شاعر ښکارندوي دا یو شعر وګورئ:

پښتنخا ښکلي زلمي چې زغلي هند ته
نو آغلې پېغلې کاندې اتڼونه

د پښتو ادب مخکښنے معلومه نثر لیکونکے سلېمان ماکو (۶۱۳ هجري) په خپل کتاب تذکرة الاولیاء کښې پښتنخا کلمه په دې ډول بیانوي:

په سن دولس او شپږ سوه د هجري تللے وم او د پښتنخا په راغو او کلو ګرځېدم.

د پښتنو او مغلو ترمنځه د پخوانو جګړو او انښتو او د مغلو خلاف په مخکښنې ځل د کرکې او نفرت په لړ کښې د هوتک بابا (۶۶۱ هجري تا ۷۴۰ هجري) د یو معلومه عوامي رزمیه نظم کښې دا درې بندونه هم وګورئ:

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دے
مغل راغلے په تلوار دے
په پښتنخا کښې ئې ناتار دے
په کلي کور باندې مغل راغے

آ د مرغې غښتلیو راشئ
په ننګ ولاړ د پښتنخا شئ
توري تېرې غشي تر ملا شئ
په کلي کور باندې مغل راغے

زلمو په ننګ ځانونه مړۀ کړئ
دښمن په غشیو مو پېیۀ کړئ
د پښتنخا زمکې ساتۀ کړئ
په کلي کور باندې مغل راغے

د روښاني تحریک مخالف اخون درویزه (۹۴۵ هجري تا ۱۰۴۸ هجري) په خپل کتاب مخزن کښې څو څو ځایه د پښتونخا کلمه راوړې ده. دا یو څو مثالونه ئې د نمونې په طور وګورئ:

(1)- پښتونخا لره به ځمه. (یعني پیر روښان وئیلے) لکه راغے تر پېښوره په خلیل کښې مقام کړۀ. ګمراهي ئې کړه آغازه، پر خلیل ئې دین حرام کړۀ. اواز ئې کړے بنیاد ے هر چې پیر په دنیا کښې ونۀ نیسینه، د هغو لارې خدائے ته نشته، هغه کسان به تر ښۀ خدائے ونۀ رسینه، پښتونخا هم ډېر بُهله وو.

(2)- د فقیر استاذ سید علي ترمذي وۀ په بونېر کښې، پښتونخا په مثال شپه وۀ دې ډېوه وۀ په اندهېر کښې، دې نېک خواه د پښتونخا وۀ، ساتندویه د دنیا وۀ.

(3)- ولې دې (د بایزید ځوے جلاله) هم پښتونخا لره بلا شۀ.

(4)- پښتونخا په دواړه لوریه خوارېدنه، ولې لا به هم خوارېږي.

او خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ هجري تا ۱۱۰۰ هجري) پښتونخوا داسې یادوي:

نوره واړه پښتونخوا په ځائے میشته ده
خو یو زۀ دې زمانې په کښې منصور کړم

هر چې ښۀ د پښتونخوا دي حال ئې دا دے
هغه بدو ته ئې ځوک وائي سړي دي

معزالله خان مومند (۱۰۸۵ هجري تا ۱۱۶۷ هجري) د رحمان بابا په تعریف او صفت کښې پښتونخوا داسې راوړي:

د تمامې پښتونخوا له شاعرانو
معزالله عبدالرحمان دے منتخب

د تاریخ مرصع لیکونکے د خوشحال خان خټک نمسے او د اشرف خان هجري ځوے افضل خان خټک (۱۰۹۸ هجري تا ۱۱۸۳ هجري) پښتونخوا دا رنګ یادوي:

((هرګاه چې خان جهان له بادشاه آزرده شۀ. کمال خان د شیخ رکن الدین روهیله ځوے چې په وخت د جهانګیر په منصب د چار هزاري په خطاب د شیر خان سرفراز وۀ. په هغه آوان د ګلکنډې په صوبه کښې وۀ. خان جهان ورته وکښل چې زۀ د بادشاه نه آزرده شوم، تۀ هم د پښتونخوا عالم سره جمع کړه او په اتفاق غلبه په بادشاهي عالم وکړه.))

د پاني پت د دریم جنګ فاتح د هندوستان د تخت مالک او بادشاه او د پښتو ادب شاعر احمد شاه ابدالي (۱۱۶۵ هجري تا ۱۱۸۷ هجري) خپل وطن پښتونخوا څومره په ښکلي انداز ارمانوي:

د ډیلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زما د خپلې پښتونخوا د غرو سرونه

د احمد شاه بابا هم عصر او د هغۀ د ځوي شهزاده سلیمان استاذ پیر محمد کاکړ (۱۱۲۰ هجري تا ۱۲۰۳ هجري) د پښتنو شاعرانو د ذکر په سلسله کښې د خوشحال خان خټک شاعري په تړوله پښتونخوا کښې داسې ستائي:

لکه شعر دے د دۀ په پښتونخوا کښې
بل به نۀ وي په دا وخت د افغان شعر

د حمید بابا د مکتبۀ فکر پېروکار میا نعیم متي زے (۱۱۸۰ هجري تا ۱۲۳۰ هجري) پښتونخوا په دې ډول بیانوي:

د زړۀ ملک مې د اشنا سترګو خراب کۀ
کۀ وهلې پښتونخوا ده سرو مغلو

د پخوانو ځنو شاعرانو او لیکوالو کلام او لیک تاسو ولوستو. اوس د اوسنو شاعرانو کلام هم ولولئ چې دا ښۀ ښکاره او څرګنده شي چې د پښتنو د دې علاقې نوم د زرګونو کلونو راهسې تر ننه پښتونخوا راروان دے. د پښتو ادب د اوسني دور ګوري کۀ داسې یو شاعر یا لیکوال وي چې هغۀ به په خپل کلام یا لیک کښې د پښتونخوا کلمه راوستې نۀ وي. د دغه ګڼو شاعرانو نه دلته صرف د دوو لویو شاعرانو د یو یو شعر په راوړلو اکتفا کوو:

سمندر خان سمندر وائي
خونې ئې وسوې چې اور ئې کړ پرې پورې
په پښتونخوا کښې دا نعرې زما دي

او د ښاغلي قلندر مومند خیال دے:

څۀ ئې راته ستائې په ما خپل وطن کشمیر دے
بې له پښتونخوا مې په بل خوا نۀ شي وتنه